

وړانه په دویم جماعت کښې سبق وائي- هغه خپلې کورنۍ سره په ښار کښې وسیږي- د هغې خور کشماله په یو دفتر کښې کار کوي- د څوارلسم اګست په سحر ټوله کورنۍ ډېره خوشحاله وه- ټولو یو بل له د ازادۍ اُمبارکۍ ورکولې- پلار ئې شکر ووېستهٔ چې نن مونږ ازاد یو- مور ئې دعا وکړه چې اللّٰه دې ټول په خپل وطن کښې خوشحاله او اٰباد لري-



د وداني په سکول کښې د ازادۍ ورځ نمانځلې کېده- هغې او ملګرو به ئي په پروګرام کښې قامي سندره وئيله- کشماله هم په دې تقريب کښې بللې شوې وه- ودانه د کشمالې او ملګرې ښکلا سره سکول ته روانه شوه-



په لاره کښې یو پارک وۀ چې نن ورته ډېر خلک راغلي وو- ډېرو خلکو په کښې شنې او سپینې جامې اغوستې وې- ډېرو ماشومانو د جنډو بېجونه په خپلو سینو او ټوپو لګولي وو- چا په خپلو لاسونو کښې د پاکستان جنډې نیولې وې او قومي سندرې ئې وئیلې-



ودانې د کشمالې نه پوښتنه وکړه "باجي! دا خلک دومره تنګول ولې کوي؟ کشمالې ووې: دوي خپل وطن سره د مینې اظهار کوي"- ودانه حېرانه شوه- هغې په خوا کښې تېرېدونکیو ګاډي کښې ناستو هلکانو ته ووئیل، "وروڼو خلک مۀ تنګوئ"- یو هلک ووئیل، "نن مونږ هر څۀ کولے شو ولې چې مونږ ازاد یو"- کشمالې ترې پوښتنه وکړه، "لالا! د آزادۍ مطلب خلکو ته تکلیف رسول دي"؟ هلکان په دې خبره ډېر کچه شول او پونکي غږول يې بند کړل-



هغوي چې سکول ته ورسېدې نو څۀ ګوري
چې سکول په رنګينو جنډو سينګار کړے
شوے دے- ودانۍ او د هغې ملګرو په ستيج
باندې قامي سندره وئيله!
هر لور ي تۀ ښکلے نو بهار کړې
خدايه پاکستان ګل و ګلزار کړې



په سکول کښبې د خوراک ثښاک او نور
سټالونه هم لګېدلي وو- دستوره چې ختمه
شوه نو مېلمنود دغې سټالونو نه د خوراک
ثیزونه اخستل- ودانې او ملګرو یې د زمکې
نه پوستکي او د ټافیانو کاغذونه را غونډول
او ډسټ بن کښبې یې اچول-



ښکلا په زمکه ګند غورزونکیو خلکو ته ووئیل، "مهرباني وکړئ ګند، په ډسټ بن کښې اچوئ". یوې ښځې ووئیل، "پرېږده بچې! نن د خوشحالۍ ورځ ده، چې څۀ مو زړۀ غواړي نو کوو به، ځکه چې مونږه ازاد یو"- ښکلا ورته په حېرانتیا ووئیل، "ترور جانې! خفه کېږئ مه خو ولې د ازادۍ مطلب چاپېرچل سخا کول دي؟" ښځه په دې خبره ډېره کچه شوه او ګند ئې په ډسټ بِن کښې واچولو-



د شپې په شپېو شپېو باران وورېدۀ- سحر چې
ودانه بهر ووته نو څۀ ګوري چې د باران په وجه
ډېرې جنډې په ختو ککښې لت پت پرتې دي-
هغه ډېره خفه شوه او زر زر ئې جنډې راټولول
شروع کړل- کشمالې او ښکلا ورسره هم مدد
وکړۀ- هغوي ووئيل چې راتلونکي کال له به د
ماښام نه مخکښې جنډې را ټولوو- مونږ له د
خپلې قامي جنډې قدر پکار دے-




د اتوار په ورځ د سکول ماشومانو او د ښار لويو وړو غټې زرټونه په لاس د ښار يو چکر ولګولو- په چارټونو ئې ليکلي وو "په څوارلسم اګست په مشرانو باندې د ښار سېل کوئ- په دې ورځ خپل چاپېر چل صفا ساتئ- په څوارلسم اګست په ماښام ټولې جنډې راټولوئ او سنبالې يې ږدئ"-



بل کال په څوارلسم اګست ودانه ډېره حېرانه
وه- په دې ورځ لارۍ موټرې چلېدې خو د
پونکیو اوازونه نۀ وو- په ګاډو کښې مشران
ناست وو او زلمو پرې د سينګار شوي ښار
سېل کولو- خلکو به خوارک کولو خو ګند
نۀ وۀ ځکه چې هغوي به ګند په ډبو کښې
اچولو- د اودۀ کېدونه مخکښې خلکو جنډې
راکوزې کړې او سنبال يې کړې-



ماښام ودانه د ډېرې خوشحالۍ نه د کور خلکو ته ووئیل، "تاسو وکتل؟ سږ کال د ازادۍ ورځ د تېر کال مقابله کښې څومره ښکلې ونمانځلې شوه"؟ ټولو په یو اواز ووې، "د الله ډېر ډېر شکر دے چې مونږ ټول ازاد یو- الله دې پاکستان ښاد او اباد لري-"

# بګ بکس

## د دويم جماعت د پاره

پاکستان ريډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پينځهٔ کلن پروګرام دے چې، د بين الاقوامي ترقۍ د پاره امريکائي اداره (USAID) په مدد سره چليږي- د دې پروګرام مقصد په پاکستان کښې د صوبائي او علاقائي تعليمي محکمو په تعاون سره د ذده کوونکيو د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دي- په دې لړکښې پاکستان ريډنګ پراجېکټ د زده کوونکيو د پښتو لوستلو مهارتونو د پرمختګ د پاره مختلف تکنيکي، تعليمي او د ښودنې مواد تيار کړي دي-

بګ بُکس ددې تعليمي موادو يو مهمه برخه ده- د 24 هفتو د پاره 12 بګ بُکس ليکلې شوي دي- يو بګ بُک به په دوؤ هفتو کښې لوستلې شي- استاذان به دا بګ بُکس د "اوچت اواز" په طريقه لولي- د هر بګ بُک په وروستنۍ مخ د استاذانو د پاره ددې هفتې د لوستلو مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي- استاذان دې په هفته کښې دوه ورځې دا سرګرمۍ ضرور وکړي- د بِګ بُک لوستلو په وخت د دې خبرې خيال وساتئ چې ماشومانو ته ټوله قيصه واورولې شي- د دې کتابونو ليکلو په وخت مختلف اُصول د نظر لاندې ساتلې شوي دي- مثلا د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپي برقرار ساتلو د پاره واضحه تصويري خاکې پېش کول وغېره-

د دې محنت په نتيجه کښې به استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي ، دغږنو علم، د ټکيو ذخيره، د لوستلو رواني، او د تفهيم صلاحيتونو ته وده ورکړې شي- دا کتابونه به په خصوصي توګه د لائبرېريو برخه وي چې راتلونکي ماشومان ترې هم ګټې ترلاسه کړي او د پښتو په لوستلو کښې به د دلچسپۍ دا سلسله هم روانه وي-
مونږ هيله لرو چې د پي آر پي دا محنت د خېبرپښتونخوا په پرائمري سکولونو کښې د لوستلو معيار ښهٔ کولو کښې معاون ثابت شي-

پاکستان ريډنګ پراجېکټ کښې لانديني تعليمي او د ښودنې مواد شامل دي-


- ټي اَئي جي ماډيولز
- سبقي منصوبې
- ويډيوز
- ورک بُک
- بِګ بُکس
- فلېش کارډونه
- د ارکانو چارټونه



































د چپايۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بيا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ضلعي يا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# استاذانو د پاره لارښوونې

نوټ: استاذان دې هره ورځ ماشومانو ته ټوله قيصې اوروي او په لاندينې لارښوونو دې عمل وکړي-

## وړومبۍ ورځ (خبرې اترې: پېش ګوئي او سابقه معلومات)

### د لوستلو نه مخکښې

- د ماشومانو نه د قيصې د سرپاڼې ښودلو په وخت تپوس وکړئ، ستاسو په خيال دا قيصې به د څهٔ په حقله وي؟
- تاسو د اَزادۍ ورځ نمانځئ؟ څنګه؟

### د لوستلو په وخت

- د 4 مخ د تصوير ښودلو په وخت تپوس وکړئ، په ګاډو کښې هلکان څهٔ کوي؟
- د 8 مخ تصوير وښايئ او تپوس وکړئ، ستاسو په خيال ښکلا د ښځې په خبره ولې حېرانه شوه؟
- په 10 مخ باندې پوښتنه وکړئ، ټولو چارټونه ولې وچت کړي دي؟

### د لوستلو نه پس

د دوؤ سوالونو تپوس وکړئ:
- په 5 مخ "باجي! دا خلک دومره تنګول ولې کوي"؟ ولولئ او ماشومانو نه پوښتنه وکړئ، د جملې په اخره کښې د څهٔ علامت دے؟ دا په جمله کښې ولې لګي؟
- هلکان د کشمالې په خبره ولې کچه شول؟
- کومې ښځې چې ګند غورزولو هغه د ښکلا په کومه خبره وشرمېده؟

## دويمه ورځ (د ارکانو مشق)

### د لوستلو نه مخکښې

- په سر پاڼه شين رنګ ته اشاره وکړئ، او ماشومانو نه تپوس وکړئ، تاسو خپله ژبه کښې دې ته څهٔ وايئ ؟

### د لوستلو په وخت

- په 4 مخ د "باجې" تصوير وښايئ او تپوس وکړئ، ستاسو ژبه کښې دې ته څهٔ وائي؟
- په 4 مخ جمله "کشماله ووئيل، دوې خپل وطن سره د مينې اظهار کوي" ولولئ او ماشومانو ته په خپله ژبه کښې دا جمله د لوستلو ووايئ؟
- په 12 مخ ودرېږئ او جمله د تاثراتو او د لب و لهجې ښکته پورته والي سره ولولئ "تاسو وکتل؟ سږ کال د ازادۍ ورځ د تېر کال مقابله کښې څومره ښکلې ونمانځلې شوه"- ماشومانو ته خپله ژبه کښې دا جمله د لوستلو ووايئ-

### د لوستلو نه پس

- ماشومانو نه د ټکي وړومبے او اخري اواز واوروئ- لکه: جماعت، وطن، پارک، پاکستان، وليد، غړول، باران، مشران، ازادي

## دريمه ورځ (د ټکيو پنګه: محاورې او اصطلاحات)

### د لوستلو په وخت

- په 7 مخ جمله "هر لور يې تهٔ ښکلې نو بهار کړې خدايا پاکستان ګل و ګلزار کړې- "ګل وګلزار" مطلب "همېشه يې اباد لرې" استعمال کړئ او يو مثال ورکړئ لکه: -"اے الله زمونږ پاکستان همېشه ګل وګلزار لرې" اوس ماشومانو ته ووايئ چې په "ګل وګلزار"جملې جوړې کړي-
- په 9 مخ جمله "جنډې په ختو کښې لت پت پرتې وې" د "لت پت" مطلب سخا پرتې وې- د ماشومانو د پوهې د پاره مثال ورکړئ لکه: د باران په وجه زما جامې په ختو کښې لت پت شوې- اوس ماشومانو ته ووايئ چې "لت پت" جملو کښې استعمال کړي-
- په 6 مخ دا جمله دوباره ولولئ "سکول په رنګينو جنډو سينګار کړے شوے ؤ"- ماشومانو نه د دې د مطلب تپوس وکړئ يا ورته وضاحت وکړئ- اوس ماشومانو ته ووايئ چې "سينګارول" په جملو کښې استعمال کړئ-

## څلورمه ورځ (خبرې اترې: د ذاتي ژوند په حقله)

### د لوستلو نه مخکښې

- په قيصې کښې ستاسو کوم يو کردار خوښ شهٔ؟ ولې؟
- مشرانو چې په ګاډو کښې سېل وکړو نو هغوي به څهٔ محسوس کړي وي؟

### د لوستلو په وخت

- د تېر کال مقابله کښې د اَزادۍ ورځ ولې مختلف وه؟
- هغه څهٔ وجه وه چې سږکال خلکو د ازادۍ ورځ په امن سره ونمانځله-

### د لوستلو نه پس

- د قيصې کومه برخه ستاسو ډېره خوښه شوه؟ ولې؟
- ستاسو په خيال د ازادۍ مطلب چغې سورې وهل او خځلې غورزول دي يا نه؟ ولې؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلکو په مرسته د امريکې بين الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن شوې ده- دا مواد يو اېس اېډ- پاکستان ريډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نهٔ ده چې دا د يو اېس اېډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-